

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۳۱ | مسلسل نمبر: ۷۳

شنبه، د جمادي الأول ۱۴مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال


## سرليکنه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د عقرب مياشتې په ۲۳مه نېټه د افغانستان بانک له لوري «د وړو تمويلونو ملي کنفرانس: فرصتونه او ننګونې» تر سرليک لاندې د پانګونې د تشويق او د کارونو د ايجاد په اړه جوړ شوي ملي کنفرانس کې ګډون وکړ. کنفرانس ته د وينا پر مهال د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، د وړو تمويلونو سکتور څخه ګټه اخيستونکي عام او بې وزله خلک، بزګران او د وړو کاروبارونو څښتنان دي او د دوی لاسنيوی د اسلامي امارت او نړيوالې ټولنې ګډ هدف دی. محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت په هېواد کې د فقر او بې‌کارۍ کچې کمول خپل مسووليت او لومړيتوب ګڼي، پر همدې اساس د وړو کاروبارونو د ملاتړ او د نويو کاري فرصتونو د ايجاد په موخه د افغانستان بانک له لوري د وړو تمويلونو مؤسسو د څارنې او تنظيم لپاره مقرره جوړه شوې چې په تېرو شلو کلونو کې دغه کار نه و ترسره شوی.

کوچني او متوسط کاروبارونه د اقتصادي پرمختګ، دندو رامنځته کولو، ټيکاو، د خلکو د ژوند سطحې ښه والي، د فقر کموالي او پر ځان بسيايني له پاره مهم دي. د افغانستان په څېر هېوادونو کې د وړو کاروبارونو رامنځته کول زيات مهم او د پلي کېدو وړ دي، ځکه د داسې هېوادونو وګړي د سترو کمپنيو د جوړلو وس نه لري، نو په کار ده چې د خپلو اړتياوو پوره کولو له پاره کوچني او متوسط کاروبارونه پيل کړي. د افغانستان اقتصاد له جغرافيايي پلوه يو څه متفاوت دی او له همدې امله د دوه ګوني اقتصاد لرونکي هېواد نوم ورکولای شوو. هغه په دې مانا چې يو ښاري اقتصاد او بل کليوالي اقتصاد دی. خو دا دواړه بيا په بشپړ ډول يو له بل سره توپير لري. په ښاري اقتصاد کې د ژوند څه نا څه اسانتياوې شته، خو په کليوالي اقتصاد کې بيا د ژوند لومړنۍ اسانتياوې هم په مشکل سره پيدا کېږي. نو دا د حکومت مسووليت دی چې کليوالي اقتصاد ته پام واړوي او د دې له پاره په کار داده چې په افغانستان کې د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو د رامنځته کېدو له پاره زمينه برابره شي.

اسلامي امارت د کوچنيو کاروبارونو رامنځته کولو په موخه ګام پورته کړی دی. د افغانستان بانک له لوري د وړو تمويلونو مؤسسو د تنظيم او څارنې مقررې په جوړولو سره د دې کاروبارونو د رامنځته کوونکو تمويل ته لار هواره شوې ده. د يادې مقررې موخه داده چې د خلکو په ځانګړې توګه د کليوالي وګړو د اقتصادي هوساينې په موخه د وړو مالي تمويلونو برخې له پاره ځواب ويوونکی، شفاف او پايدار چاپېريال (ايکو سيستم) رامنځته او هغه وڅارل شي. له دې څخه جوته شوه چې اسلامي امارت د کوچنيو او متوسطو کاروبارونو له لارې غواړي له يوه لوري په کليو او بانډو کې د مېشتو هېوادوالو له پاره د کار او د ژوند د اسانتياوو زمينه برابره کړي او له بل لوري يې هڅه داده چې د دې کاروبارونو پر مټ سيمه‌ييز او په ټوله کې ملي اقتصاد پياوړی او غښتلی کړي.

### د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال «د وړو تمويلونو ملي کنفرانس: فرصتونه او ننګونې» کې ګډون وکړ




۲ صفحه

### سخنرانی معاون اقتصادی رياست الوزراء به « کنفرانس ملی تمویلات خُرد: فرصت‌ها و چالشها»




۲ مه صفحه

### د بې‌کارۍ کچې راکمولو په پار د اسلامي امارت هڅو ته کتنه



۴ مه صفحه

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال «د وړو تمويلونو ملي کنفرانس: فرصتونه او ننګونې» کې ګډون وکړ




د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال د عقرب مياشتې په ۲۳مه نېټه د افغانســتان بانک له لوري «د وړو تمويلونو ملي کنفرانس: فرصتونه او ننګونې» تر سرليک لاندې د پانګونې د تشويق او د کارونو د ايجاد په اړه جوړ شــوي ملي کنفرانس کې ګډون وکړ. په دغه کنفرانس کې د کابينې يوشمېر محترمو غړو، د ملګرو ملتونو، اروپايي ټولنې او نړيوال بانک استازو، د بېلابېلو هېوادونو ســفيرانو، د نړيوالو او کورنيو مؤسسو مسوولينو او يوشمېر ملي پانګوالو او سوداګرو هم ګډون کړی و.

د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړ شوي کنفرانس ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، د وړو تمويلونو سکټور څخه ګټه اخيستونکي عام او بې وزله خلک، بزګران او د وړو کاروبارونو څښتنان دي او د دوی لاسنيوی د اسلامي امارت او نړيوالې ټولنې ګډ هدف دی.

محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت په هېواد کې د فقر او بې‌کارۍ کچې کمول خپل مســووليت او لومړيتوب ګڼي، چې پر همدې اساس د وړو کاروبارونو د ملاتړ او د نويو کاري فرصتونو د ايجاد په موخه د افغانستان بانک له لوري د وړو تمويلونو مؤسسو د څارنې او تنظيم لپاره مقرره جوړه شوې چې په تېرو شلو کلونو کې دغه کار نه و ترسره شوی. د محترم ملا صاحب په خبره، په ټول هېواد کې د سرتاسري امنيت په تأمين او د شفافيت پر رامنځته کېدو سره اوس له بل هر وخت دې ته ښه زمينه برابره شــوې چې د وړو تمويلونو سکټور له لارې له عامو خلکو سره مرستې ترسره او هغوی ته د کار زمينه برابره شي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ياد کنفرانس ته د وينا پر مهال وويل، د وړو تمويلونو ملاتړ او ورسره ګډ کار کول ځکــه ډېر مهم دي چې د عامو او بې وزلو خلکو له ژوند سره تړاو لري. د دغه سکټور له لارې له بزګرانو، عامو او بې وزلو خلکو سره مرسته ترسره او هغوی ته د کار زمينه برابرېږي چې لــه دې سره د بې وزلۍ، بې کارۍ او ټولنيزو ســتونزو کچه راټيټېږي او په پايله کې د اقتصادي ودې او د ملي اقتصاد د پياوړتيا لامل کېږي.

په پــای کې د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرســتيال د دغه کنفرانس لــه لارې پر نړيوالې ټولنــې، تمويلوونکو ادارو او همدارنګه شتمنو افغانانو غږ وکړ چې د وړو تمويلونو د ملاتړ په برخه کې د اســلامي امارت ترڅنګ ودرېږي. همدارنګه عام خلک، بزګران او د وړو کاروبارونو لرونکي هم کولی شي چې د وړو تمويلونو مؤسسو له جوړې شوې مقررې څخه ګټه پورته کړي او خپل کاروبار پيل او پراخه کړي.

د يادونې وړ ده چې د وړو تمويلونو مؤســســو په جوړه شــوې مقرره کې د تمويل د ترلاســه کولو شرايط اسانه شوي څو د لېرې پرتو ســيمو بې وزله خلک وکــولای شي چې تمويل ترلاسه کړي او دا لړۍ به د هېواد ټولو سيمو ته وغځول شي.

# سخنرانی معاون اقتصادی ریاســـت الوزراء به « کنفرانس ملی تمویلات خُرد: فرصت‌ها و چالشها»



الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی

اما بعد!

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم،

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی: وَتَعَاوَنُوا عَـلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

به وزیران محترم، نماینده گان سازمان ملل متحد، مسؤلین اداره های امارتی، اتحادیه اروپا، بانک جهانی، ســفیران مقیم کشور، نمایندگان مؤسسات داخلی و بین المللی، رسانه ها و تمام اشتراک کننده‌گان کنفرانس خوش آمدید میگویم و تشکر میکنم از اینکه با ما در این کنفرانس ملی مرتبط به

سکتور تمویلات خُرد اشتراک نمودید.

قبل از همه از رهبری و مسئولین د افغانستان بانک بخاطر برگزاری این کنفرانس ملی، تشویق سرمایه گذاری و ایجاد اشتغال از طریق سکتور مالی کوچک سپاسگزاری می نمایم. مدیریت خوب سکتور مالی و بانکی توسط د افغانستان بانک، حفظ ثبات مالی و ارزش افغانی و در این اواخر وضع مقرره نظارت و تنظیم بخش تمویلات خُرد که معلومات مفصل در مورد آن بعداً با شما شریک ساخته خواهد شد، قابل تقدیر است. کنفرانس سکتور تمویلات خُرد به همین دلیل بسیار مهم است، که به زندگی مردم عام و فقیر ارتباط دارد،زیرا از طریق این سکتور به دهاقین، مردم عام و فقیر کمک صورت می گیرد و برای شان زمینه کار مهیا می شود که باعث کاهش سطح فقر، بیکاری و مشکلات اجتماعی و در نتیجه منجر به رشد اقتصادی و تقویت اقتصاد ملی می شود. کاهش فقر و بیکاری و فراهم نمود زمینه کار برای مردم، امارت اسلامی مسئولیت و اولویت خود می‌داند، همچنان این مسؤلیت جامعه جهانی و افغانان ثروتمند نیز است، تا نقش فعال در این عرصه داشته باشد. طوریکه قبلاً گفته شد، مستفید شونده گان سکتور تمویلات خُرد مردم عام و فقیر، دهاقین و صاحبان کاروبار کوچک اند و همکاری با آنان هدف مشترک امارت اسلامی و جامعه جهانی است. پس لازم است که همه مسؤلیت خود را اداء کرده و با همکاری یک دیگر از طریق این بخش برای مردم زمینه کار را فراهم کنیم. اکنون بیش از هر زمان دیگر، فرصتی بدست آمده تا از طریق سکتور تمویلات خُرد به مردم عام کمک صورت گیرد و برای آنان زمینه کار مساعد گردد. چون الحمدلله، در تمام کشور امنیت تأمین، شفافیت وجود دارد، زیرا مردم مکلفیت های مالی خود را به موقع اداء می کنند، حق هیچ کسی پایمال نمی شود و همچنان د افغانستان بانک برای نظارت و تنظیم این سکتور مقرره هم وضع کرده است که در بیست سال گذشته این کار صورت نگرفته بود.

امارت اسلامی با تدوین این مقرره و برگزاری این کنفرانس، تعهد خود را برای تقویت سکتور تمویلات خُرد نشان داده، همچنان از همه طرف های دخیل انتظار داریم که برای مساعد ساختن زمینه کار به مردم از طریق سکتور مذکور با امارت اسلامی به طور مشترک کار نمایند. علاوه بر جامعه جهانی و ادارات تمویل کننده، افغان های ثروتمند مقیم داخل و خارج از کشور نیز باید در این کار در کنار امارت اسلامی بایستند. آنها می توانند با ایجاد یک مؤسسه تمویلات خُرد در این بخش سهم بگیرند و همچنان می توانند از طریق یک نهاد به مردم یک ولایت یا یک منطقه مشخص کمک نماید، زیرا براساس مقرره وضع شده اکنون هر کس می‌تواند یک مؤسسه تمویلات خُرد را در سطح یک ولایت ایجاد کند. همچنان مردم عام، دهاقین و صاحبان تجارت کوچک قادر خواهند شد تا از این فرصت استفاده کرده و کارو بار خود را گسترش دهد، در مقرره تلاش صورت گرفته تا شرایط اخذ تمویل آسان گردد بخاطریکه باشندگان مناطق دوردست و مردم بی بضاعت بتوانند تمویل را بدست آورده و این سلسله به تمام مناطق کشور گسترش داده شود. در اخیر یک بار دیگر از تمام طرف های دخیل و ادارات کمک رسان تقاضا می نمایم تا از طریق سکتور تمویلات خُرد بیطرفانه با دهاقین، مالکان تجارت های کوچک و مردم عام کمک کرده و در فراهم ساختن فرصت های کاری سهم بگیرند.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

## د وړو مالي تمویلونو مؤسسو
### د تنظیم او څارنې مقرره

**مبنی**: دا مقرره د افغانستان بانک قانون د ۷۰یمې او ۱۲۳مې مادو د حکمونو پر بنسټ ترتیب او وضع شوې ده.

### د دې مقررې موخې:

د دې مقررې عمومي موخې د خلکو په ځانګړې توګه د بې وزلو د اقتصادي هوساینې په موخه د وړو مالي تمویلونو برخې لپاره د ځواب ویوونکي، شفافه او پایداره چاپېریال (ایکو سیستم) رامنځته کول، ساتل او څارل دي.



### د لویو موخو ترلاسه کولو لپاره فرعي موخې په لاندې ډول دي:

- د وړو مالي تمویلونو برخې/سکتور د سیستماتیک پرمختګ او پایدارې ودې لپاره د اړتیا وړ اداري جوړښت رامنځته کول، ساتل او څارل.
- د وړو مالي تمویلونو مؤسسو او نورو هغو ادارو چې په یاد سکتور کې فعالیت کوي، د جواز صادرولو، تمدیدولو، ځنډولو او لغوه کولو لپاره د شرایطو ټاکل.
- د دې مقررې د عمومي موخو د ترلاسه کولو لپاره د وړو مالي تمویلونو مؤسسې او د وړو مالي تمویلونو سکتور تسهیلوونکو ادارو د کړنو او اجراآتو تنظیمول او څارل.

### د مقررې پلي کېدو ساحه:

۱ دا مقرره په هغو سوداګریزو بانکونو او د بهرنیو بانکونو په نمایندګیو باندې چې غواړي د ځانګړو دریڅو له لارې د وړو مالي تمویلونو خدمتونه وړاندې کړي، د پلي کېدو وړ ده.

۲ دا مقرره په وړو مالي تمویلونو (سپارنې نه اخیستونکو) مؤسسو او په هغو تسهیل کوونکو ادارو باندې چې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د وړو مالي تمویلونو د کړنو د ملاتړ په موخه فعالیت کوي، د پلي کېدو وړ ده.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اباديٍ اوونیزه
هفته‌نامه آبادی





# د بې‌کارۍ کچې راکمولو په پار د اسلامي امارت هڅو ته کتنه

**لیکوال: قیس احمد**

## سریزه

د بې‌کارۍ ستونزه د یوې ټولنې د اقتصادي ودې او پرمختګ پر وړاندې جدي ننګونه بلل کېږي. دا ننګونه نه یوازې پر افرادو، بلکې پر ټولنو او اقتصادونو هم خپل ژور اغېز لري چې باید جدي پام ورته وشي. له یو لوري بې کارۍ د تولید کچې ټیټېدو، د تقاضا کمېدو، د پانګونې کمرنګه کېدو او همدا راز د کمې ګټې وټې سبب ګرځي، له بل لوري یې ټولنیز او رواني تاثیرات هم ډېر عمیق دي چې باید له پامه ونه غورځول شي.

دغه ستونزه بېلابېل عوامل لري چې له یوې ټولنې بلې ته او یا هم له یو هېواد بل هغه ته توپیر لري. دا ستونزه د افغانستان په څېر درېیمه درجه هېوادونو کې زیاته ده او ګراف یې هغه وخت لوړ شوی دی، چې په هېواد کې لوی سیاسي بدلون رامنځته شوی دی.

د تېر شل کلن امریکایي اشغال له پای ته رسېدو وروسته په لومړیو وختونو کې موږ د بې‌کارۍ کچې د زیاتېدو شاهدان وو، خو د اسلامي امارت د هلوځلو په پایله کې د تېرو درېیو کلونو پر مهال دا کچه تر ډېره حده راکمه شوې ده. هېوادوالو ته د کاري فرصتونو برابرولو په موخه اسلامي امارت د هېواد په کچه په مختلفو سکټورونو کې لویې اقتصادي پروژې پیل کړې دي، چې زیات شمېر هېوادوالو ته پکې د کار زمینه برابره شوې ده.

موږ په دې مقاله کې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال پر مهال د بې‌کارۍ کچې راکمولو په پار پیل شوو پروژو او رامنځته شوو کاري فرصتونو ته لنډه کتنه کوو.

## پیل شوې لویې اقتصادي پروژې

د تېر شل کلن امریکایي اشغال پر مهال سره له دې چې افغانستان ته په ټریلیونونو ډالر راغلل، خو په هېواد کې د دایمي کاري فرصتونو د رامنځته کولو او زېربنایي پروژو د پیل لپاره هېڅ اساسي کار ترسره نه شو. هغه وخت موقت کاري فرصتونه رامنځته شوي وو او پر کار ګومارل شوي خلک هم یوازې پر خدماتي چارو مصروف وو.

اسلامي امارت واک ته په بیاځلي رسېدو سره وپتېیله چې د بې‌کارۍ کچې راکمولو لپاره هېوادوالو ته دایمي کاري فرصتونه رامنځته کړي او په دې برخه کې یو مهم سکټور ته چې هغه «لویې زېربنایي پروژې» دي، ځانګړې توجه وکړي. په همدې موخه د تېرو درېیو په ځانګړې ډول د روان ۱۴۰۳ لمریز کال پر مهال په مختلفو ولایتونو کې د زېربنا، انرژۍ، اوبو مدیریت او ترانسپورټ په سکټورونو کې لویې پروژې پیل شوې دي. په دې کې د اغا جان، پلټوني او پاشدان بندونه، د هرات – غور عمومي سړک، د کابل – جلال آباد دوهم لین سړک، د کابل – غزني دوهم لین سړک، د کابل ښار یوشمېر مهم داخلي سړکونه، د طوطي میدان ګازو استخراج، د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعه دوهمه برخه، د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکترونیکي سکنرونو نصب، په کابل کې د نیله‌باغ هستوګنیزه پروژه او لسګونه نورې مهمې پروژې شاملې دي.

یادې پروژې د زېربنا سکټور په پیاوړي کولو کې مهم رول لري چې په پیلېدو سره یې د تطبیق په سیمو کې اقتصادي څرخ په حرکت راغلی او په زرګونو کوچني او متوسط کاروبارونه پیل شوي دي. ښه بېلګه یې د هرات – غور سړک دی. دغه سړک له څو ولایتونو څخه تېرېږي چې په بشپړېدو سره یې د یادو ولایتونو ترمنځ سوداګریز تړاو غښتلی کېږي، د یاد سړک په اوږدو کې د پرتو کانونو د اکتشاف او استخراج لپاره د پانګونې لېوالتیا زیاته شوې، هلته صنعت، کرنې او مالدارۍ وده کړې چې زیات شمېر نوي کاري فرصتونه یې رامنځته کړي.

همدا راز د کابل – غزني او کابل – جلال آباد دوهم لین سړکونو په جوړېدو سره په زرګونو کسانو او همدا راز په سلګونو ماشینرۍ ته نوي کاري فرصتونه رامنځته شوي دي. پر دې سربېره په پاشدان، پلټوني او اغا جان بندونو کې هم په زرګونو کسان او ماشینري پر کار مصروف دي چې په بشپړېدو سره به یې په لسګونو زره هکتاره ځمکې خړوبې شي. د یادو ځمکو د ابادولو پر مهال به په زرګونو بزګران، هټیوال او سوداګر پر دایمي کار مصروف شي.

همدې ته ورته د خواف – هرات اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې د دوهمې برخې د جوړېدو چارو په پیل سره سلګونه کسان پر کار مصروف دي. دا پروژه به له بشپړېدو وروسته په دایمي ډول زرګونو کسانو ته د سوداګریزو توکو د بار او تخلیې، په زرګونو ترانسپورټي وسایطو ته د لېږد او همدا راز په سلګونو کسانو ته په امنیتي او د اداري پروسو د طی مراحل په برخو کې کاري فرصتونه رامنځته کړي.

د طوطي میدان ګازو د اکتشاف او استخراج چارو پیل او د هغه تر څنګ د هېواد په ۱۲ ګمرکي بندرونو کې د الکترونیکي سکنرونو نصب هغه پروژې دي چې په دایمي ډول یې په مهمو تخصصي برخو کې زرګونو

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی

کسانو ته نوي کاري فرصتونه رامنځته کړي دي. د دې پروژو کاري ساحې ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې دي، چې له ځان سره زرګونه نوي کاري فرصتونه رامنځته کوي.

نو په لنډ ډول ویلی شو چې د ۱۴۰۳ لمریز کال په اوږدو کې د لسګونو پیل شوو زېربنایي پروژو له لارې زرګونو کسانو ته نوي کاري فرصتونه رامنځته شوي دي.

**پایله**

اسلامي امارت په هېواد کې د بې‌کارۍ ستونزه درک کړې او د حل لپاره یې له ټولو شته امکاناتو او لازمو تدبیرونو څخه استفاده کړې ده. د بې‌کارۍ کچې د راکمېدو یوه حللاره د لویو زېربنایي او اقتصادي پروژو پیل دی چې اسلامي امارت ورته د تېرو دریو په ځانګړي ډول د روان ۱۴۰۳ لمریز کال پر مهال ځانګړې توجه کړې ده.

روان کال د هېواد په کچه د اوبو مدیریت، انرژۍ تولید، ټرانسپورټ او زېربنا جوړولو سکټورونو کې لویې ملي پروژې چې مور یې پورته یادونه وکړه، پیل شوې دي چې له مخې یې زرګونو هېوادوالو او همدا راز په زرګونو ماشینرۍ ته نوي کاري فرصتونه برابر شوي دي. نه یوازې دا چې په مستقیم ډول یې زرګونه کسان پر کار مصروف کړي دي، بلکې په غیر مستقیم ډول یې هم زیات شمېر هېوادوالو ته اوس او په راتلونکي کې د کار کولو فرصتونه مهیا کړي. د دې پروژو په پیل سره د تطبیق په سیمو کې په زرګونو کوچني او متوسط کاروبارونه غوړېدلي، په بېلابېلو برخو کې د پانګونې لپوالتیا زیاته شوې او په مجموع کې په یادو سیمو کې اقتصادي او کاروباري خرڅ په حرکت راغلی چې د بې‌کارۍ کچې په راکمولو کې یې د پام وړ مثبت رول لوبولی دی.

## DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS SPEECH AT THE NATIONAL CONFERENCE ON MICROFINANCE: OPPORTUNITIES AND CHALLENGES



In the name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful.

Respected Ministers, distinguished representatives of the United Nations, representatives of various governmental institutions, the European Union, the World Bank, ambassadors of different countries, representatives of international and local institutions, media representatives, and all conference participants, I welcome you all and thank you for participating in this national conference on the microfinance sector.

First of all, I would like to express my gratitude to the leadership and officials of Da Afghanistan Bank for organizing this national conference regarding the promotion of investment and job creation in the microfinance sector. The efforts made by Da Afghanistan Bank, especially in the areas of improving the financial and banking sector's management, ensuring financial stability, maintaining the value of the Afghan currency, and most recently, the creation of regulations for the monitoring and regulation of the microfinance sector, which will be shared with you in detail later, are commendable.

The microfinance sector is of great importance because it directly impacts the lives of ordinary and poor people. This sector supports farmers, ordinary people, and the impoverished by creating job opportunities for them, thus reducing poverty, unemployment, and social issues. As a result, it contributes to economic growth and strengthens the national economy.

Reducing poverty and unemployment and providing people with job opportunities is a responsibility and priority for the Islamic Emirate. Similarly, it is also the responsibility of the international community and wealthy Afghans to actively contribute to this area. As mentioned earlier, the beneficiaries of the microfinance sector are ordinary people, farmers, and small business owners, and empowering them is a common goal of both the Islamic Emirate and the international community. It is essential that we all fulfill our responsibilities and work together to create job opportunities for people through this sector.


Now, more than ever, there is an opportunity to assist ordinary people through the microfinance sector and help them find employment. This is because security has been established across the country, transparency exists, people are paying their financial obligations on time, no one's rights are being violated, and also, Da Afghanistan Bank has recently introduced regulations for the monitoring and regulation of this sector, which had not been done in the past twenty years.

By creating these regulations and holding this conference, the Islamic Emirate has demonstrated its commitment to strengthening the microfinance sector. We expect all stakeholders to work together with the Islamic Emirate to create job opportunities for people through this sector. In addition to the international community and donor agencies, wealthy Afghans, both within the country and abroad, should also stand alongside the Islamic Emirate in this effort. They can contribute by establishing microfinance institutions and helping the people of a specific province or region, as the newly established regulations now allow anyone to create a microfinance institution at the provincial level.

Moreover, ordinary people, farmers, and small business owners can now take advantage of this opportunity to start or expand their businesses. The regulation has made the conditions for obtaining financing easier, especially for people in remote areas and the poor, enabling them to access financing. This process will gradually be extended to all regions of the country.

In conclusion, once again, I call upon all concerned parties and donor organizations to assist farmers, small business owners, and ordinary people by supporting the microfinance sector, and contribute to the creation of job opportunities.

Allah's mercy, peace and blessings be upon you!




## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکايي ډالر | ٦٨,٤٠؋ | ٦٨,٤٥؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ٢٣٦؋ | ٢٣٦؋ |
| ١٠٠٠ | ايراني تومن | ١,٢٤؋ | ١,٢٤؋ |
| ١ | اروپايي یورو | ٧٢,٠٨؋ | ٧٢,١٣؋ |
| ١ | روسی روبل | ٠,٦٨؋ | ٠,٦٨؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ٨١٠؋ | ٨١١؋ |
| ١ | انگلیسي پوند | ٨٦,٣٨؋ | ٨٦,٤٤؋ |
| ١ | سعودي ريال | ١٨,١٤؋ | ١٨,١٥؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٨,٦٢؋ | ١٨,٦٤؋ |
| ١ | چيني ين | ٩,٤٥؋ | ٩,٤٦؋ |